د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

تحليل هفته

**شماره: ۳۱۴** (از ۲٦ اسد الی ۲ سنبله ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و مراجع پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

آنچه در این شماره می‌خوانید:

## د خپلواکۍ سلیزه؛ لنډه کتنه!

د غازي لویې لاسته راوړنې ........................................................................................ ۱

سلیقوي رېفورمونه ........................................................................................ ۳

سلمه کلیزه ولې مهمه وه؟ ........................................................................................ ۴

د ازادۍ د لمانځنو تت موردونه! ........................................................................................ ۵

## بیجا شده‌گان داخلی؛ قربانیان جنگ و ناامنی در افغانستان

قربانیان جنگ ........................................................................................ ٦

مهاجرت؛ رنج بی پایان مردم افغانستان ........................................................................................ ۷

صلح حلال مشکلات است ........................................................................................ ۸

## د خپلواکۍ سلیزه؛ لنډه کتنه!




هغه جگړه چې امیر حبیب الله خان ونه کړه، محافظه کاري یې وکړه همغه جگړه غازي امان الله خان په خپل انداز کې وکړه، هغه مهال چې انگلیس په هند کې وو او ایران کې یې هم لښکرې گرځېدې د غزا ناره په کې درنه ناره وه، غازي چې انگلیس ته د ۱۹۰۵م کال د تړون د بیا کتنې لیک ولیږه، منتظر پاتې نه شو او سملاسي یې ازادي اعلان کړه.

که تاسو له انگلیس سره د افغان ځواکونو زور او ځواک پرتله کړئ، نو له انگلیس سره جنگ یوازې د افغانانو سرزوري گڼلی شئ، یوه لویه امپراتوري چې په اروپا کې یې المان، اتریش او عثماني ترکیې ته ماتې ورکړې وه، څرنگه پرې د غازي امان الله خان لښکرې غورځېږي، دا تعجب دی.

دا جگړه له هره پلوه بې انډوله وه، په هر محاذ کې د انگلیس او هند ځواکونو او وسلو شمېر په کراتو زیات وو، هغوی منظمه اردوه وه او هغوی تربیه شوي نظامیان وو او هغوی د اعاشې او اکمال له نظره په ډېر لوړ حالت کې وو، خو افغان پوځونه چې ټول شمېر یې تر ۶۰ زرو رسېده ډېر نامنظم وو، خواړه او پوښاک یې غریبانه او پر خپل ځان وو، د وسلو او اکمال حالت یې ډېر خوار وو او دوی اصلاً د انگلیس له پوځ سره په دغه حساب نه شوای جنگېدلی، یوازې په دې جگړه کې نه بلکه په لومړۍ او دویمه جگړه کې هم افغانان دغسې تش لاسي وو، او ډک لاسي یرغلگر یې په مخ او څټ وهل. تاسو که د افغان انگلیس په دویمه جگړه کې د انگلیس لښکرې له بولانه تر کابله تعقیب کړئ، نو تاریخ به تاسو ته په دغه ټوله لاره د انگلیس د لښکرو لوټې هدیرې در وښایي، تاسو به په کې په کابل کې متجاوزین ډېر بې وسه اړ محاصره ووینئ، خو دا هر څه افغانان په خپل همت او سرزورۍ کوي، د نړۍ کوم ځواک هم نه شته چې ورته وسلې ورکړي، روزنه ورکړي او حمایه یې کړي. او دا زمونږ د تاریخ را پاتې تسلسل دی، مونږ ته راښایي چې افغانان په تشو لاسونو لوی ځواکونه څنگه پرزوي.

## د غازي لويې لاسته راوړنې!

د غازي امان الله خان تر ټولو لويه لاسته راوړنه د هېواد ازادي وه، د ازادۍ له نعمت او ارزښت سره بل هيڅ ارزښت سيالي نه شي کولای.

غازي د سوداګرۍ، اقتصاد، تعليم، فرهنګ، اداري، نظامي، هوايي ځواک، لارو او مواصلاتو، ښار جوړوني او بېلابېلو برخو کې ډېرې زياتې لاسته راوړنې درلودلې، غازي د افغانستان لپاره د ترقۍ ډېر لوی خوبونه ليدل، او هغه چې په کوم شوق او ملي جذبه دې خوب ته کار کاوه دا د افغانستان په تاريخ کې بېسارې ده.

په اقتصادي برخه کې پر شرکتونو، فابريکو کار وشو، د اورګاډي پټلۍ پيل شوې، په پام کې وه چې د هېواد جنوب له شمال سره د اورګاډي په پټلۍ ونښلول شي. د برق سټېشنونه جوړ شول او برېښنا يې فابريکو ته ورکول شوه، د اوبو ځو بندونه جوړ شول لکه د غازي بند او د غزني سراج بند. د الوتکو د ترميم او پرزه جوړولو فابريکه جوړه شوه، د موټرو د ترميم او پرزو جوړولو فابريکه جوړه شوه، د نساجۍ فابريکه جوړه شوه. د دې لپاره چې ولايتونه له مرکز سره ونښلول شي نو د تليفون او تليګرام پر پروسې کار پيل شو.

په تعليمي ډګر کې په حبيبيه او امانيه لېسو کې فرانسوي او الماني ښوونکيو تدريس کاوه، په ټول افغانستان کې ۳۲۲ لومړني ښوونځي جوړ شول او تر ۱۹۲۷ پورې ټول ۵۱ زره شاګردان په زده کړو بوخت وو. په مسلکي لېسو کې ۳۰۰۰ زده کوونکي موجود وو. ځو سوه زده کوونکي د زده کړو لپاره ترکيې، جرمني، فرانسې، ايټاليې او شوروي ته ولېږل شول.

معارف ته لويه بوديجه په پام کې ونيول شوه چې د دفاع او دربار تر بودېجې وروسته درېمه لويه بوديجه يې تشکيلوله.

طب ښوونځی جوړ شو او په پايتخت کې لوی کتابتون ايجاد شو.

په فرهنګي برخه کې په کابل او ولايتونو کې ۱۳ جريدې خپرېدې، په دوی کې ارشاد النسوان جريده، اتحاد مشرقي جريده، افغان ورځپاڼه، د تعليم او تربيې مجله، امان افغان اونيزه، د پوځ مجله، اتفاق اسلام اونيزه، اتحاد جريده، د اعلاناتو لپاره ابلاغ جريده او حقيقت جريده شامل وو.

له دې سره په ځنګ کې انيس ازاده اونيزه هم له چاپه راوتله، د دې اونيزې مسئول غلام محی الدين انيس وو. نسيم سحر د احمد راتب خان په مشرۍ او نوروز ۱۵ ورځينۍ د ميرزا محمد نوروز په مشرۍ خپرېدې.

د غازي په وخت کې لومړی ځل راډيو جوړه شوه او سينما ته کار وشو، اروانښاد غلام محمد خان ميمنه‌ګي المان ته د لوړو زده کړو لپاره ولېږل شو او کله چې راستون شو نو د رسامۍ ښوونځی يې پرانېست چې وروسته بيا د هېواد په کچه يو لوی هنري نوم شو.

د غازي په واکمنۍ کې اساسي قانون (نظام نامه) جوړ شو، لويې جرګې راوغوښتل شوې، شورای خاص يا د دولت شورا چې د پارلمان حيثيت يې درلود جوړ شو او ګڼ قوانين تصويب شول.

د غازي په وخت کې افغانستان ۱۱ الوتکې درلودې، او ٦٥ کسان يې د هوايي زده کړو لپاره ترکيې، فرانسې، ايټاليې او شوروي ته ولېږل. حربي فابريکه جوړه شوه، او دافع هوا توپونه او زره پوش موټرې پوځ ته وارد شول.

د سالنګ او پکتيا لوی لارې جوړې شوې او پر نورو لارو کار پيل شو. دارالامان جوړ شو، ملکي او نظامي روغتونونه جوړ شول، کابل ته د اکسرې ماشين وارد شو، او دار المجانينونه او دار الايتامونه جوړ شول.

غازي دغه مهال ترکان، جرمنیان او فرانسویان د روغتیا، تعلیم، پوځ، تخنیک او لرغون پوهنې په برخه کې په کار ګمارلي وو.

## سلیقوي ریفورمونه!

د غازي امان الله خان لومړی لویه اشتباه دا وه چې هغه د شپږو میاشتو په اوږده سفر له هېواده بېرون په رسمي سفر ووت، له یوې خوا دلته دننه په هېواد کې د غازي مخالفینو ته د توطیو میدان خوشې شو او له بلې خوا په دې سفر کې غازي د اروپا د فرهنګ او رواج تر تاثیر لاندې راغی او ده چې هلته کوم رنګ اخېستی و د دغه رنګ تصویرونه د ده تر را رسېدو مخکې په افغانستان کې حساسیتونه راپارولي وو.

دویمه لویه اشتباه د خلکو له روایتونو او سنتونو سره د غازي ټکر وو، تاسو فرض کړئ، که په ۲۰۱۹ کال کې په کابل ښار کې پولیس ودرېږي او د مېرمنو له سرونو څادرې په خنجکونو لرې کړي، دا به د هېواد په لرو بر کې څرنګ غبرګون ولري؟ بیا همدا غبرګون په ۱۹۲۸م کې وسنجوئ، چې هغه مهال به د خلکو او روحانیونو غبرګون څه وو؟ غازي امان الله خان په پغمان کې د خپلې مېرمنې له سره نه ټیکری لرې کړ او له خلکو یې وغوښتل چې خپلې مېرمنې د حجاب له قیده خلاصې کړئ. دا هر څه د خلکو له روایتي او سنتي حالت سره په سخت ټکر کې وو.

په لویو غونډو کې خلک مجبورېدل چې کالي لرې کړي، پتلونونه واغوندي، شپو خولۍ په سر کړي او امسا په لاس کې ونیسي، دوی ته ویل کېدل چې نور به د سلام پر ځای شپو خولۍ له سره ښکته کوئ، او دا په داسې حال کې چې په افغانستان کې په دغه شمېر او دې اندازو پتلونونه، ددرېشی او شپو خولۍ نه وې، دې هر څه نوي سلیقوي ریفورمونه مسخره کړي وو.

شاه د جمعې ورځې رخصتي پنجشنبې ته واړوله او په پوځ کې یې د ږیرې خرېل جبري کړل، دې ټولو غازي د یوه داسې کس په توګه مشهوراوه چې له دیني رموزو سره یې شخړه شروع کړې. د نکاح په اړه چې څلور ښځې یې منعه کړې وې، دا خورا حساسه مسئله وه، دا د دیني متونو سره ټکر وو او په روحانیونو کې یې لوی بحث رامنځته کړی وو.

## سلمه کلیزه ولې مهمه وه؟

سږکال چې د ازادۍ د ګټلو سلمه کلیزه راغله، دا سلیزه زمونږ د نیکونو د سلو کلونو پخوانۍ تُوري مانځنه ده، دا لمانځنه د دې لپاره ډېره مهمه ده چې مونږ د خپلواکۍ پر ارزښت پوه شو، دا د دې لپاره ده چې مونږ د خپلواکۍ مفاهیم، احساسات، او جذبات د یو ملي امانت په توګه ژوندي او په نسلي بهیر کې یې په خوځون او دوران کې وساتو.

په دې ګرمې سلیزې کې د دې یو لوی فرصت برابر شو، چې د خپلواکۍ پر تېرې مبارزې بېلابېل کتابونه او مقالې چاپ شي او فرهنګي مناسبتونه، ګردي مېزونه او کنفرانسونه پرې دایر شي دا مجالونه داسې وو چې د یوې ملي بیدارۍ لپاره مهم او اساسي توکي وو.

د ازادۍ دغسې لمانځنه د دې لپاره هم مهمه وه، چې د هغو خلکو تاویلونو ته یو ډول ځواب شي، چې خپلواکي د اوسني عصر په غوښتنو او ګلوبلایزېشن کې له سره تعریفوي، خپلواکي، خپلواکي وي او افغانانو چې د انګلیس تر درې پلا

ماتولو وروسته شوروي هم مات کړ او اوس امریکا هم د خبرو پر بستر د وتلو لار ګوري دا ټول په دې مانا چې د خپلواکۍ جوهري مانا زمونږ په وطن کې نه ده بدله شوې...
په کوم شان او انداز چې د ازادۍ سلیزې ته پام شو، د غازي د وخت ودانۍ ورغول شوې، د افغانستان شموله مراسمو تابیا ونیول شوه او فوق العاده اهتمام ورته وشو دا نو زمونږ د تاریخ یوه معنوي رغونه وه او دا د هغه ټپي ورځ درملنه وه چې د تېرې نیمې پېړۍ جنګونو لکه د دارالامان دا هم بې امانه ځپلې وه... د جنګونو په شر کې دغه له اعتباره غورځېدلي لوی ملي ارزښت ته د بیا باور ورکولو لپاره دا اړینه وه، چې دغسې شانداره ولمانځل شي. په دې حساب به دا شانداره اهتمام د تاریخ له حافظې هیر نه شي....

## د ازادۍ د لمانځنو تت موردونه!

د ملتونو په معاصر تاریخ کې څه نومونه داسې وي، چې هغوی پر ملي رمزونو اووښتي وي، غازي امان الله خان چې د خپلواکۍ او مترقي افغانستان له منظره په دا سیمه کې بې سیاله دی، هغه باید د دې کوچنیو سلیقو له منځه ډېر شانداره راووځي، هغه په دې حساب د افغانانو لپاره یو ملي رمز دی.
عموماً د ازادۍ په لمانځنو کې څه موردونه داسې دي چې ډېر پام ورته نه کېږي، یو څو یې په لاندې ډول یادوو:
لومړی، د غازي په اړه باید د اسلامي نړۍ د هغه مهال پیاوړو لیکوالانو، مؤرخینو او مفکرینو ارشیفونو ته مراجعه وشي، د هغوی په کتابونو کې په دې اړه ډېر څه شته، د بېلګې په توګه د اسلامي نړۍ د هغه مهال د لوی مؤرخ او مفکر امیر شکیب ارسلان خاطرې، د امیر په اړه د علامه اقبال تحریر، د خان عبدالغفار خان لیکل، د خلافت تحریک د مشرانو خاطرې او دېته ورته نورې ډېرې سرچینې شته چې په منځ کې یې د غازي یادونه نالوستي پراته دي.
دویم مورد دا دی چې د غازي امان الله خان د ژوند د بېلابېلو اړخونو په اړه د نوموړي د کورنۍ له غړیو او په ځانګړي ډول شهزادګۍ هندیه، شهزادګۍ ناجیه او نورو غړو سره باید تاریخي مرکې وشي.
درېیم مورد دا دی چې د ازادۍ جګړه د غازي په مشرۍ د ټول ملت جګړه وه، او دې لپاره اړینه ده چې دغه جګړه افغان شموله وګڼل شي، په دې مانا چې په راتلونکي کې باید د ازادۍ د ګټلو پر جامع او راټول تاریخ خبره وشي، د ازادۍ ټول کرکټرونه او شخصیتونه ژوندي وساتل شي او دا موضوع د ټول افغانستان ګډه موضوع شي، او دا هله کېږي چې نور قومونه د ازادۍ په جګړه کې خپل سهم وویني.
څلورم مورد دا چې تر ډېرو او شانداره لاسته راوړنو وروسته، له بده مرغه هغه سلیقوي وروستني ریفورمونه چې غازي امان الله خان له اروپا راکاپې کړي وو، نه یې هغه مهال ملي منښته لرله او نه یې اوس څوک منلو ته تیار دي، د غازي هغه تېروتنې چې غازي د سلیقوي ریفورمونو په سلسله کې وکړې هغه په احساساتي ډول نه بلکه په تحقیقي او علمي بڼه تحلیل او تجزیه شي، او د افراط او تفریط له چلنده راوویستل شي.

# بیجا شده‌گان داخلی؛ قربانیان جنگ و ناامنی در افغانستان



گزارشی که هفتۀ گذشته از سوی دفتر امور هماهنگی کمک های بشری سازمان ملل متحد(OCHA) نشر گردید نشان میدهد که شمار بیجا شده‌گان داخلی از آغاز سال روان میلادی تا کنون به بیش از ۲۷۰ هزار نفر می رسد، که ۵۸ درصد ایشان را کودکان و ۲۱ درصد را زنان تشکیل میدهد.

گرچند در گزارش (اوچا)، جنگ و منازعات مسلحانه عامل اصلی افزایش بیجاشده‌گان داخلی خوانده شده است. حوادث طبیعی و خشک سالی، بحران فقر و بیکاری، وضعیت خراب اقتصادی و نبود سرمایه گذاری در بخش های زیر بنایی، نیز از جمله عواملی می باشند که باعث افزایش بیجاشده‌گان داخلی در کشور می شوند. طوریکه در گزارش وزارت مهاجرین و عودت کننده‌گان افغانستان مجموع کل بیجا شده‌گان داخلی برا اثر جنگ و نا امنی و عوامل دیگر، از آغاز سال ۲۰۱۹م تا دهه اخیر ماه جون را ۳۴۶ هزار و ۹۴ تن گفته، از برگشت ۵۷ هزار و ۱۴۸ نفر در همین سال به محلات اصلی شان نیز گزارش داده بود.

بیجا شده‌گان داخلی قربانی جنگ نا امنی، مهاجرت رنج بی پایان مردم افغانستان و اینکه صلح حلال تمام مشکلات افغانهاست در تحلیل این شماره پرداخته شده است.

## قربانیان جنگ

همزمان با جنگ و درگیری های داخلی و بالخصوص از آغاز حملۀ آمریکا علیه افغانستان، ضمن صد ها هزار تن کشته و زخمی، ۸ ملیون جوان بیکار و مسدود شدن راه بازگشت میلیون ها مهاجر از خارج به کشور به علت جنگ و نا امنی، نیز باقی نیروی بشری اعم از مرد و زن و طفل وبزرگ در این کشور، قرار نداشته جهت حفظ

جان از یکجا به جای دیگر همواره در هجرت بوده اند. بر بنیاد گزارش اخیر دفتر امور هماهنگی کمک های بشری سازمان ملل متحد باتوجه به قدامت و دوام جنگ در این کشور رقم بیجا شدگان رو به افزایش بوده است، طوریکه شمار بیجاشده‌گان در شش ماه اول سال روان میلادی در مقایسه با شمار بیجاشده‌گان در شش ماه اول سال ۲۰۱۷م، که به ۱۹۲ هزار تن می رسید، افزایش ۴۰ درصدی دارد.
با وجود مصارف ماهانه ۴ ملیارد دالری امریکا و کمک های ملیونی دیگر کشور های کمک کننده، جنگ شعله ورتر از پیش گردیده هنوز بیجا شده‌گان تحت خیمه ها یا در فضای باز بدون آب و کمک های صحی به دور از تعلیم و تحصیل معیشت دارند. طوریکه چندی قبل صدای آمریکا به نقل از سخنگوی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان افغانستان، شمار مجموعی بیجا شدگان داخلی در این کشور را به بیش از سه ملیون و ۷۷۸ هزار نفر گزارش نموده می افزود که ٦۷ درصد این افراد به دلیل جنگ و نا امنی و ۳۳ درصد به دلیل خشکسالی و حوادث طبیعی از محلات مسکونی شان بیجا شده اند.

## مهاجرت؛ رنج بی پایان مردم افغانستان

هرچند بحث مهاجرت طبیعی همگام با مراحل آغازین زندگی انسانها در کرهٔ زمین بر میگردد و نیروی بشری در هر گوشهٔ از دنیا، جهت سیاحت و دسترسی برای امکانات بیشتر به طور مقطعی از یکجا به یکجای دیگر هجرت نموده اند. اما در افغانستان، بحث مهاجرت همزمان با وقوع جنگ های استخباراتی و در گیری های مسلحانه با عوامل مختلف چون جغرافیای استراتیژیکی، مدیریت ناسالم، فقر اقتصادی و جهل و بی سوادی اکثریت مردم در این کشور به درازای چهار دهه به طور مستمر، ساکنین این کشور را به مهاجرت های داخلی و خارجی جهت نجات جان شان وا داشته است.
از سوی دیگر با ختم جنگ های داخلی، سقوط حکومت طالبان و تشکیل نظام جدید در سایه ای همکاری های سازمان ملل متحد، طوریکه ازسال ۲۰۰۱م تا ۲۰۰٦م نظر به بهبود وضعیت امنیتی رقم بیجا شده‌گان داخلی رو به کاهش بود، و امید بر آن می رفت که مردم افغانستان از دربدری و بی خانمانی نجات یافته و به عدالت و سازندگی و پیشرفت و آرامش دست یابند. اما پس از ۲۰۰۷م با تشدید جنگ و ناامنی دیده می شود تا کنون ضمن هزینهٔ گذاف و نیروهای خارجی در افغانستان، مهاجرین بیرونی و بیجا شده‌گان داخلی مربوط به این کشور در اسفبارترین وضعیت زندگی دارند. که متاسفانه  به علت عدم سیاست خارجی لازم، مهاجرین افغان در خارج از کشور، مورد تبعیض و معاملهٔ سوء کشور های میزبان قرار گرفته،  یا جبرا اخراج می شوند، یا به علت بیکاری و محرومیت های شهروندی به صفحات جنگ فرستاده می شوند.
به طور مثال: اوچا در گزارش اخیر خود از اخراج ٦۰۰۰مهاجر افغان از ترکیه خبر داده است. از سوی دیگر یک سازمان مخالف دولت ایران، در نشریه اخیری خود از وضعیت بد اقتصادی، بیکاری و محرومیت های معیشتی مهاجرین افغان در ایران خبر نموده افزوده است که دانشجویان و نوجوانان افغان در این کشور به علت فقر و بیکاری از سوی نظام حاکم، در جبهات جنگ به سوریه و عراق فرستاده می شوند. در حالیکه گفته می شود

حدود بیش از یک ملیون و ۵۸۰ هزار مهاجر افغان در کشور ایران وجود دارد، که ۵۳ درصد را زنان و ۴۷ درصد آن ها را مردان تشکیل میدهد.
همچنین به نسبت نبود پالیسی منظم و تنظیم درست بودجۀ دولتی در خصوص مهاجرین داخلی، بیجا شدگان به مشکلات عدیده ای دست و پنجه نرم می کنند. هرچند روز سه شنبۀ هفته گذشته سفارت امریکا در کابل از کمک ۱۲۵ ملیون دالری کشورش جهت تأمین نیازهای بیجاشده‌گان داخلی، قربانیان حوادث طبیعی و مهاجران برگشت کننده خبر داده است. اما تا کنون تنها ۲۷ درصد بودجۀ مورد ضرورت نیازمندان به کمک های فوری تهیه شده است. اگر با گذشته و تاریخ آوارگی و وضعیت نکبت بار کنونی مهاجرین افغان در داخل و خارج از کشور توجه شود، دانسته می شود که حکومت ها در افغانستان از بعد سیاست خارجی قادر به سیاست مؤثر و دارای اعتبار لازم برای حمایت از مهاجرین و اتباع خود نبوده و در سیاست داخلی خویش فاقد ظرفیت و توانایی ایجاد امنیت و اشتغال برای افراد متوطن در کشور بوده اند. از این لحاظ نه تنها نمی شود ضرب الأجلی برای خروج از وضعیت ذلت بار کنونی تعیین نمود، بلکه نا امیدی درد آواره گی و مهاجرت، ضمن مصایب دیگر نیز دامنگیر ملت ما خواهد بود.

## صلح حلال مشکلات است

چهار دهه می گذرد که مردم ما میان دود و باروت جنگ؛ دربدر و بی خانمان اند و با گروه های مختلف داخلی و خارجی تحت نظام های مختلف و با همکاری های بین المللی جنگ و درگیری را تجربه می کنند، بربنیاد گزارش سازمان ملل متحد تنها در شش ماه اول سال ۲۰۱۹ میلادی یک هزار و ۳٦٦ غیر نظامی توسط طرف های درگیر در افغانستان کشته شده اند. این امر نشان دهندۀ آنست که تا وقتی اهریمن جنگ و ناامنی در کشور وجود دارد، توقع اینکه مشکل مهاجرین و بیجاشده‌گان داخلی پایان یابد، امری مستحیل می باشد. زیرا دوام جنگ همه روزه مصاءب جدیدی را به وجود می آورد، چه رسد به اینکه مشکل دیرینه ای چون مهاجرت های بیرونی یا بیجا شدن های داخل کشور را مداوا نماید.

در حالیکه دور نهم مذاکرات صلح میان امریکا و طالبان ادامه دارد، مردم ما یکبار دیگر چشم هایشان را به دوحه پایتخت قطر دوخته اند که اگر خدا خواسته باشد امضای موافقت نامۀ صلح میان حرکت طالبان و حکومت امریکا به امضاء رسیده و با این کار، باب گفتگوهای رو در رو میان طالبان و حکومت افغانستان و هم چنان دیالوگ وسیع بین الأفغانی به خاطر رسیدن به یک صلح عادلانه و پایدار بازگردد.

صلح نه تنها به مشکل مهاجرت و بیجا شدن ها در داخل کشور پایان خواهد داد، بلکه زمینۀ مساعدی را به وجود خواهد آورد تا آهسته، آهسته تمام مشکلات ناشی از جنگ تحمیلی چهل ساله در کشور ما پایان بیابد. به همین خاطر، صلح اولویت مردم ماست و هیچ چیز دیگر نمی تواند جای آن را بگیرد.

## ارتباط با ما:

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

ویب‌سایت:www.csrs.com – www.csrs.af

شمارهٔ تماس دفتر: 202564049 (93+) - 784089590 (0) 93 +


لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.